# پرمختیا
اوونیزه

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

هیله بخښونکي خبرونه!

۱۲۲ مه گڼه | پنجشنبه | د کب ۱۵ مه | ۱۳۹۸


## د هیواد په ۱۹ ولایتونو کې د ۷۷ پرمختیایي پروژو تړونونه لاسلیک شول



۵

## په فراه کې د ولسي تړون ملي پروگرام ۲۰۰ پراختیایي پروژې بشپړې او گټې اخیستنې ته سپارل شوېدي



۲

## د ننگرهار ولایت په چپرهار ولسوالۍ کې د ۱٤٥ پروژو چارې پیل شوې



۲

## په کندز کې د ۹۳.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت ۲۱ پرمختیایي پروژې بشپړې شوې



۳

## په څلورو ولایتونو کې یو ښوونځې جوړ شو او د دریو نورو کار پای ته نږدې دی



۲



## په سمنګانو کې څه باندې د ۱.۷ ملیونه افغانیو په ارزښت د څښاک د پاکو اوبو د یوې شبکې د جوړولو کاربشپړ شو

۱۳۹۸/ کب / ۱۰

دکلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري څه باندې د ۱.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د څښاک د پاکو اوبو د یوې شبکې د جوړولو کار د سمنګانو ولایت د خرم و سارباغ ولسوالۍ اړوند د شوراب کلي د پراختیایي شورا لخوا بشپړ او ګټې اخیستنې ته وړاندې شوه. د څښاک د پاکو اوبو دغه شبکه ۱۶۲۸ متره اوږدوالي، د اوبو یوه ارتفاعي زېرمه او ۹ نلکې لري. د یادونې وړ ده چې د دغې پروژې له بشپړېدو وروسته ۸۰ کورنیو د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی پیدا کړیدي.

## د ننګرهار ولایت په چپرهار ولسوالۍ کې د ۱٤٥ پروژو چارې پیل شوې

۱۰/ کب/ ۱۳۹۸

دکلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت له خوا په ۱۳۹۸ لمریز کال کې د ننګرهار ولایت په چپرهار ولسوالۍ کې د ۱۷۴ پروژو چارې پیل شوي چې له دې پروژو څخه یې ۲۹ پروژې بشپړې او د ۱۴۵ پروژو کار جریان لري، یادو پروژو کې د د ولسي تړون پروګرام د اقراء پروژې له لوري د ۴۰ ښوونځیو لپاره د ودانیو جوړول او ترمیم هم شامل دي .

د ۱۳۹۹ مالي کال لپاره د ۱۸ کیلو متره په اوږدوالي سفالت سړکونه ، ۸۵ مترو په اوږدوالي کانکریټي پل ، د ۱۰۰۰ مترو په اوږدووالي کانالونه او سربندونه او د ۲۵۰۰ مترو په اوږدوالي استنادي دیوالونه او سربندونه د یادې ولسوالۍ لپاره په پلان کې نیول شوي دي.



## په ننګرهار کې د ۱۳،۵ میلونه افغانیو په لګښت د ۹ پرمختیایي پروژو د بنسټ ډبرې کېښودل شوې

۱۳۹۸/ کب/ ۱۰

دکلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام (CCNPP) اود ساتنې ځارنې نغدي وجهي پروګرام (MCCG) له لوري د ننګرهار ولایت په چپرهار ولسوالۍ کې د ۹ پرمختیایي پروژو د بنسټ ډبرې کېښودل شوې. پدې پروژو کې د څښاک اوبو ۲۴ څاګانې، ۲۰۸ متره استنادي دیوالونه ، کلیوالي سړکونه ، پلچکونه او دکوڅو او ویالو پخول شامل دي چې له دې ټولګې د ۴،۵ میلونه افغانیو په لګښت د MCCG دوه پروژې او د ۹ میلونه افغانیو په لګښت د ولسي تړون ۷ پروژې شاملې دي چې د یادو پروژو په تطبیق کې لس سلنه ولسي ونډه هم شامله ده .

د غه پروژې د چپرهار ولسوالۍ په کندیباغ ، چهاردهي، برې چینې، زاري خیلو او یوشمیر نورو کلیو کې پلي کېږي چې نږدې ۲۰۰۰ کورنۍ به ورڅخه په مستقیم ډول ګټه پورته کړي او په ۸ میاشتو کې به یې چارې بشپړې شي .





## په فراه کې د ولسي تړون ملي پروګرام ۲۰۰ پراختیایي پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوېدي

۱۳۹۸/ کب/ ۱۰

دکلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام ۲۰۰ پراختیایي پروژې د ټرانسپورټ، د تجدید وړ انرژۍ/ برېښنا، ابو رسولو او اوبو لګولو په سکتورونو کې د فراه ولایت د مرکز شاو خوا سیمو د ۱۳۶ کلیو پراختیایي شوراګانو له خوا، بشپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوېدي. د یاد ونې وړ ده چې په دغو پروژو کې د سړکونو، پلګوټو، د اوبو رسولو شبکو، د محافظوي او ګابیون دیوالونو جوړول، د څښاک د پاکو اوبو د بمبو لرونکو څاګانو کېندل د برېښنا بناري او سولري شبکو غزول او د اوبو د ویشلو د دروازو بیا رغول شامل دي.

# د کرونا ویروسي ناروغۍ په اړه د عامه پوهاوي پروګرام

۱۳ کب ۱۳۹۸

دکلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت دکلینیک روغتیایي ټیم لخوا د یاد وزارت کارکونکو ته دکورونا ویروس په اړه د عامه پوهاوي پروګرام جوړ شو.

دغه پروګرام د وزارت د مالي او اداري معین معراج الدین شمس لخوا د دې حدیث شریف په بیانولو چې «پاکي د ایمان برخه ده» پیل شو، او د وزارت کارکونکو ته یې په خپلو خبرو کې وویل.

«موږ ټول اړتیا لرو چې زموږ په کاري ځای کې د حفظ الصحې مهمو ټکو ته پاملرنه وکړو او تر خپل وسه پورې له دې ناروغۍ سره مبارزه وکړو.»

د وزارت دکلینیک روغتیایي ټیم لخوا د وزارت کارکونکو ته د یوه پریزنټیشن له لارې د یاد ویروس په اړه جزیات، د ویروس تاریخ، د ناروغانو شمیر، د ویروس خپریدنه، درملنه او د ثبت شویو پیښو په اړه مهم معلومات وړاندې شول. دغه پروګرام، چې د نړیوالي ویروسي ناروغي د عامه پوهاوي په هدف جوړ شوي و، د وزارت ۲۰۰ تنو کارکونکو پکې برخه اخیستې وه. د پروګرام په پای کې، د وزارت امنیتي مسؤلینو د امنیت له پلوه دکرونا ویروسي ناروغۍ دخپریدو او د مخنیوي په اړه خپلې لارښوونې وړاندې کړې.



# په کندز کې د ۹۳.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت ۲۱ پرمختیایي پروژې بشپړې شوې

۱۲/ کب/ ۱۳۹۸

دکلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د بیلو پروګرامونو له لوري دکندز په امام صاحب ولسوالۍ کې د ۹۳.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت ۲۱ پروژې بشپړې او ګټې اخېستنې ته وسپارل شوې.

پنځه زیربنایي پروژې او د لیتاکا ۲ څلور اقتصادي پروژې، یوه ژوره څاه ایستل، د یوې اوسپنیزې کانکریټي ارتفاعي زیرمې جوړول، د صحي اوبو د یوې شبکې رامنځ ته کول، د ۲۱۰ متره زراعتي کانال جوړول، یو پلچک او ۱۰ ښوونځي له دې پروژو دي.

داسې مهال چې دغه پروژې ګټې اخېستنې ته سپارل کیدې د ۹۸ میلیونه افغانیو په ارزښت له اما صاحبه تر دکندز تر پیش کپې کلي پورې د ۱۴.۵ کیلومتره اوسپنیز کانکریټي سړک جوړولو د بنسټ ډبره هم کیښودل شوه. دا سړک دکلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لار جوړولو د ملي پروګرام له لوري جوړیږي.





## په ننګرهار کې د څه باندې ٤۹۰ کورنیو لپاره د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې

۱۲/ کب/ ۱۳۹۸

دکلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو او حفظ الصحې پروګرام له له لوري د ۱ میلیون او ۵۲۶زره او ۷۱۱ افغانیو په لګښت سره چې د دولت له بودجې نه د مالیې وزارت لخوا ورکړل شوي او لس سلنه د ټولنې ونډه هم پکې شامله ده، د ننګرهار ولایت دکامې ولسوالۍ په بېلا بېلو کلیو کې په لاسي بمبو سمبال ۲۳ څاګانې جوړې او د ځایي خلکو ګټې ته وسپارل شوې.

د دغو څاګانو د جوړولو چارو د ځایي خلکو لپاره سلګونه کاري ورځې رامنځته کړې او په بشپړېدو سره يې د څه باندې ۴۹۰ کورنیو لپاره د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې.

## خوست کې څه باندې د ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یو کانال د جوړولو کار بشپړشویدی

۱۳۹۸/ کب / ۱۳

دکلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري څه باندې د ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یوکانال د جوړولو کار د خوست ولایت د مندوزیو ولسوالۍ اړوند دکته ساري کلي د پراختیايي شورا لخوا بشپړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شویدي. د دغه کانال مجموعي اوږدوالی ۴۰۶ متره دي چې د پروژې د جوړولو په بهیر کې ماهرو او غیرو ماهرو کاریګرو ته ۱۳۲۰ کاري ورځې رامنځته شوي د دغه کانال په ګټې اخیستنې سره به د کلیوالو ۲۰۰۰ جریبه ځمکه خړوبه شي.



## په څلورو ولایتونو کې یو ښوونځي جوړ شو او ددریو نورو کار پای ته نږدې دی

۱۵/ کب/ ۱۳۹۸

دکلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام د اقرا پروژې تر سیوري لاندې په خوست ولایت کې د یوه ښوونځي جوړولو کار بشپړ شو او په دریو نورو ولایتونو کابل، کندز او فاریاب کې به د دریو نورو ښوونځیو کار ډیر ژر بشپړ شي. جوړ شوي ښوونځي د خوست په ګربزو ولسوالۍ کې و او جوړېدونکي ښوونځي دکابل په استالف، دکندز په خان اباد او د فاریاب په پشتون کوټ ولسوالۍ کې دي، دا ښوونځي ۱۰، ۸ یا ۶ ټولګي، تشنابونه او د څښاک د اوبو څاګانې لري.

ددې پروژو په ترڅ کې سلګونه کاري ورځې رامنځ ته شوي چې په بشپړتیا سره به يې د نږدې ۱۷۰۰ کورنیو زده کونکو ته د ښوونې او روزنې ور زمینه برابره شي.





## په کندهار کې له ۱٤ اړو کورنیو سره څه باندې د ۱۳٦ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي اوغیر خوراکي توکو مرسته وشوه

۱۳۹۸/ کب /۱۳

دکلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري دکندهار ولایت د تخته پل ( شګه ) ولسوالۍ د بریچ او عبدالحبیب د پراختیایي شوراګانو لخوا له ۱۴ اړو کورنیو سره څه باندې د ۱۳۶ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي او غیرخوراکي توکو مرسته وشوه. دغه مرستې د ولسي تړون د ټولنیز ګډون لپاره د مالي وجهي پروګرام (SIG) لخوا چې د خلکو ونډه هم پکې وه، کلیوالو ته ورانډې شوي چې چاې، اوره، صابون، وریژې او غوړي پکې شامل و و. د بې روزګارۍ او موسمي لوږې په موده کې دکلیو اړو کسانو ته د غله جاتو بانکونو له لارې مرسته، دشتمنو خلکولخوا د بې وزلو دلاسنیوي فرهنګ خپروي.

# د هیواد په ۱۹ ولایتونو کې د ۷۷ پرمختیایي پروژو تړونونه لاسلیک شول

چهار شنبه د کب ۱۴

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزیر پوهندوي مجیب الرحمن کریمي د کب پر ۱۴ نیټه د چهار شنبې پر ورځ د څه باندې ۴۸۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۷۷ پرمختیایي پروژو هوکړه لیکونه له پرمختیایي شوراگانو او خصوصي شرکتونو سره لاسلیک کړل. د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزیر وویل: هغه ټولې پروژې چې نن یې له پرمختیایي شوراگانو او خصوصي شرکتونو سره هوکړه لیکونه لاسلیک شول شمیر یې ۷۷ پروژو ته رسیږي چې کاریزونه، استنادي دیوالونه، گبیوني او بولډروالونه، د اوبه خور کانالونه، سربندونه، د سرکونو پخول او پر کلیوالي سړکونو کریږ اچول په کې راځي.

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزیر همدا راز وویل : ددغو ۷۷ پروژو بودیجه نږدې ۴۸۸ میلیونه افغانۍ (۴۸۷.۸۸۷.۹۳۸ ) کیږي له دې ټولگې ۵۱ پروژې د ملي بودیجې له طریقه تمویل شوي پاتې۲۵ پروژې د






دوست هیواد ایټالیا له مرستو تمویل شوي او یوه پروژه د قزاقستان هیواد له خوا تمویل شوې.

د ښاغلي کریمي په وینا: د دې پروژو په تطبیق سره به د کار موندنې په برخه کې ۱۵۵.۲۲۳ کاري ورځې د گرانو هیوادوالو لپاره رامنځ ته شي او ۱۹۱.۷۸۴ وگړي به له دې پروژو گټه واخلي.

دا پرمختیایي پروژې په ۱۹ ولایتونو بادغیس، بلخ، فراه، غزني، غور، هرات، کابل، کندهار، کاپیسا، خوست، کونړ، لغمان، لوگر، ننگرهار، نورستان، پکتیا، پکتیکا، سمنگان او زابل کې پلې کیږي.

باید وویل شي چې په دې پروژو کې پرمختیایي شوراگانې هم ۱۰ سلنه ونډه لري چې له دې کبله په پرمختیایي پروژو کې د خلکو حضور هم جوتیږي.

اوسمهال د اوبو د مدیریت بحث افغان دولت ته لومړیتوب لري، له دې کبله د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت هم هغو پروژو ته لومړیتوب ورکوي چې د اوبو د مدیریت په برخه کې گټورې پریوځي.

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت په خپل پنځه کلن پلان کې د اوبو د مدیریت په برخه کې په ۳۴ ولایتونو کې د سیندونو د ساحلونو ۹۲۶ کیلومتره تحکیمات چې د گبیوني دیوالونو، بولډروالونو، او سنگ کاربو په مرسته تر سره کیږي په پام کې نیولي.

همدا راز د ځمکو د اوبه خور لپاره د سربندونو ۱۴۹۴ پروژې، د ځمکې لاندې اوبو د زیرمه کولو لپاره ۴۳۶۸ چک ډیمونه او د اوبه خور د دودیز سیستم د تنظیم په موخه ۱۸۷۵ کاریزونه هم جوړیږي.

د دې پروژو پیل به د کابل، پکتیا، پکتیکا، وردگو، او کندهار له ولایتونو کیږي.

## د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر د پکتیا ولسونو د ستونزو د اوریدو په موخه د یاد ولایت له والي شمیم خان کټوازي سره ولیدل

دکلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوي مجیب الرحمن کریمي د یک شنبې په ورځ په خپل کاري دفتر کې د پکتیا ولایت له والي شمیم خان کټوازي سره ولیدل. د لیدنې په سر کې د پکتیا والي دکلیو بیارغونې او پراختیا وزارت دکارونو ستاینه وکړه او د یاد ولایت د خلکو ستونزې یې دکلیو بیارغونې او پراختیا له وزیر سره شریکې کړې، چې د ښوونځیو د ودانیو د جوړولو، دکاریزونو د بیارغونې او نورو پرمختیایي پروژو پلي کول یې مهم یاد کړل.

دکلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوي مجیب الرحمن کریمي د پرمختیایي پروژو د پلي کولو، دکلیو د اقتصادي ودې د پیاوړتیا او دکاري فرصتونو د ایجاد په برخه کې وزارت مسوول یادکړو او زیاته کړه، چې په ټول هېواد کې به ۶۰۰۰ ښوونځیو ته دوانی جوړې شي، چې د لومړني پړاو چارې یې پیل شوې دي او له بودیجې پیداکولو وروسته به د دوهم پړاو چارې هم پیل شي، چې له نیکمرغه په دوهم پړاو کې پکتیا هم شامله ده، د دې ترڅنګ به په یاد ولایت دکاریزونو بیارغونې ته هم پاملرنه وشي



## په بامیان ولایت کې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام له لوري د پور او سپما د کلیوالي اتحادیو او تولیدي ګروپونو جوړېدل

۱۴/ کب/ ۱۳۹۸

بامیان د هېواد له لومړنیو ولایتونو څخه دي، چې دکلیو بیارغونې او پراختیا وزارت دکلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام پهکې فعالیت پیل کړيدي. دکلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام د تېر ۲۰۱۹ز کال راهیسې تر دې دمه د دې ولایت په پنځه ولسوالیو (د بامیان مرکز، سیغان، یکاولنګ، پنجاب، شیبېر) ولسوالیو کې ۱۴۶۹ د سپما ګروپونه، ۶۳د پور او سپما کلیوالي اتحادیي او ۶۰ تولیدي ګروپونه جوړ کړيدي.

دکلیو بیارغونې او پراختیا وزارت دکلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام به پهخپله ۵ کالنه دوره کې ۱۶۴۴ د سپما ګروپونه، ۲۰۶ د پور او سپما کلیوالي اتحادیې او ۲۰۶ تولیدي ګروپونه په ټاکل شوي ولایت کې جوړ کړي، چې د دې ګروپونه له طریقه به ورسره ۱۶۲ مېلیونه افغانۍ بالاعوضه مرسته هم ترسره شي.

د یادولو وړ ده، چې پروګرام به د ۵ کالونو په پای کې په بامیان ولایت کې ۱۶۴۴۰ ګټه اخیستونکي ولري، چې له ۸۰٪ ډېر به یې مېرمنې اوسي.

